آصف بهاند
۲۰۲۰/۰۴/۲۷

# وازخولې ګور به دې لیدلی نه وي،

## داسې چې ژنې لا ژوندي وي او ګورونه شکول کیږي ورته

په دې ورځو کې د سرو، شنو، سپینو او تورو بادونو او بیرغونو کیسې او دمامې بنې ګرمې دي، تنور تود دی هر څوک خپلې - خپلې ډوډۍ په کې پخوي.

ما ته خپل یو شعر را په زړه شو چې همدې بادونو او بیرغونو د رپېدو او سیلیو د داسې ناورین له پاره مې انشا کړی و چې زما تر سترګو وړاندې پېښ شوی و. د تنظیمي جګړو په ترڅ کې مې د خپل کلي (دهمراد خان) د یو شل کلن ځوان د وژل کېدو په پار لیکلی و چې زما تر مخې ولګېد او د وجود ټوټې یې کلیوالو راټولې کړې. مړی لا هماغه د خلکو د ویر په څپو کې ایښی و او په خپلو اوښکو یې لمباوه، چې کلیوالو ګور ورته وشکاوه، ګور وازه خوله نیولې وه چې د زلمي بدن ټوټې کله راوړل کېږي. دا جریان ما په خپله یوه سفر نامه کې له همدې شعر سره یو ځای خپاره کړې و او اوس د بادونو او بیرغونو د اړودوړ په پار یو ځل بیا:

## تا ته وایم!

**اې!**

**اې!**

**تا ته وایم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخې خوله لیدلې؟**

**زه یې خوړلی یمه**

**زه یې چیچلی یمه**

**زه په کې تللی او راغلی**

**په څو ځلې یمه**

**«په دکن کې پاړونه شته چې مې دم کا**
**زه خوړلی اژدهــا تـورې بـلا یــم»**

*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

**اې!**

**اې!**

**تا ته وایم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلي؟**

**تا د غوټیو په عمرو کله نظر کړی دی؟**

**ستا د ګلانو په ځوانی، کله زړه سوی راغلی؟**

**تا د تندیو لښتو، تاند ځوانیمرګی لیدلی؟**

**تا د ازغو د ټوکیدو شیبه زغملې کنه؟**

**ما یه جبرو زغملې**

*****

**اې!**

**اې!**

**تا ته وایم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلي؟**

**تا زمونږ د کلي ځوانیمرګي ونې**

**ښکته په ځوړ لیدلي؟**

**تا زمونږ د کلي**

**د کړکیو**

**دروازو**

**سکاره لیدلي کنه؟**

**زه په کې سوی یمه**

*****

**اې!**

**اې!**

**تا ته وایم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلي؟**

**تا ته وایم!**

**کله تا!**

**زمونږ د کلي ځوانان**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

په داشکه باندې سوري ليدلي؟

تا شل کلن بدن غلبيل ليدلی؟

تا د سرو وينو

سل چينې ليدلي؟

تا ته وايم!

ستا سو د کلي نجونې

کله منګې پر اوږه

له خندا ډکه خولګۍ

ګودر ته تللي داسې

چې اوبه نه وي

وينې خاندې ورته

دوی منګی تش راوړي

*****

اې!

اې!

تا ته وايم!

تا د ځګرې توری بلا دوزخې خوله ليدلې؟

تا د پاخه فصل ريبل په مردکو ليدلي؟

تا د بزګر تناکې

د درمندونو

د لوخړو د ځپو له پاسه

کله ليدلي داسې

چې د لوګو پر وزرو

هسک ته روان وي

خدای ته عرض کوي

موږه عرضونه کړي

*****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

**اې!**

**اې!**

**تا ته وايم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟**

**وازخولې ګور به دې لیدلی نه وي،**

**داسې چې ژنې لا ژوندي وي او ګورونه شکول کېږي ورته**

**مورې ژړلي ورته**

*****

**اې!**

**اې!**

**تا ته وايم!**

**ودان کورونه دې لیدلي کنه؟**

**داسې چې سترګو رپ نه وروسته**

**کنډواله جوړه وي**

**ما يې ګردونو کې شيبې زغملې**

*****

**اې!**

**اې!**

**تا ته وايم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟**

**تا ته وايم!**

**هوښيار سرې به دې لیدلی نه وي**

**داسې چې سا ايستلو وروسته لیونی وي روان**

**ما ته په مخه راغی**

*****

**اې!**

**اې!**

**تا ته وايم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لیدلې؟**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**تا داسې تاندې**

**ځواني ځانګې**

**په سپرلو کله لېدلې دي چې**

**د سپرلي باد يې بېرته وچې کاندي**

**ما يې په تمه څه عمرونه تېرکړل**

*****

**اې!**

**اې!**

**تا ته وايم!**

**تا د جګړې تورې بلا دوزخي خوله لېدلې؟**

**تا داسې ښار لېدلی؟**

**چې ټول ښاريان يې، رنځوران وي او روغتون نه لري**

**او،**

**په جهان کې پاړو نه وي چې يې دم کا**
**دوی خـوړلي يـوې ږيرې اژدهـا وي**

۱۳۷۱/۰۵/۲۰

کابل

دهبوري



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ